# دَحقیقت

# کلام

# دَحقيقت

# كلام

## دُنیا او ټول څیزونه څنګه په وجود کښې راغلل؟

په شروع کښې خدائے آسمانونه او زمکه پیدا کړل... دَ رب له کلام نه آسمانونه جوړ شول... ځکه هغه څه چه ده وفرمائیل، وشول. آسمان په کلِمه د رب او د هغه ټول لښکر د هغه د خلے په پوکی جوړ شو او هغه څه چه ده حکم وکړو، نو هغه پیښ شول... مونږ ته دَ ایمان په وسیله دا معلُومه ده چه عالمُونه دَ خُدائے په کلام جوړ شوی دی، داسے نۀ ده چه څۀ چه په نظر راځی هغه دَ ظاهری څیزُونو نه جوړ شوی دی.
(پیدائښت ۱ : ۱ ، زبور ۳۳ : ۶ ، ۹ عبرانیان ۱۱ : ۳).

## نمر، سپوږمئے او ستوری دَ خدائے په باب کښے څه ظاهروی؟

آسمانونه دَ خدائے لوئی بیانوی او فضا دَ هغۀ دَ لاس کار ښکاره کوی یوه ورځ دَ بلے ورځ سره خبرے کوی او یوه شپه بلے شپے ته علم ورښیئ... هغه خُدائے چه دُنیا ئے پیدا کړه اَؤ په کښے ئے هر څیز هم پیدا کړو، هم هغه دَ آسمان اَؤ دَ مزکے مالِک دے اَؤ هغه دَ بنی آدمو دَ لاسه جوړ شؤو ځایُونو کښے نۀ اوسیږی.

(زبور ۱۹ : ۱-۲ ، اعمال ۱۷ : ۲۴).

## زمونږ خالق خدائے مونږ ته هره ورځ څه راکوی؟

اَؤ چغے ئے کړے چه "اَئے سړو! دا تاسو څۀ کوئ؟ مُونږ خو ستاسو په شان بنی آدم یُو! کُوم زیرے چه مُونږ تاسو ته آؤرووُ دا تاسو ته وائی چه دَ دے فضُولو څیزُونو نه ژوندی خُدائے ته راوګرزئ چا چه آسمان اَؤ مزکه اَؤ سمندر اَؤ هر څۀ چه په کښے دی، پیدا کړل خو بیا هم هغۀ تاسو دَ خپل ځان په حقله ناخبره نۀ یئ ساتلی، هغه چه درباندے دا مهربانی کوی چه دَ آسمان نه درباندے باران ورَوی اَؤ دَ موسم دَ فصلُونو نه خوراک درکوی اَؤ ستاسو زړُونه خوشحالوی... هغه دَ بنی آدم دَ څۀ څیز مُحتاج نۀ دے چه دَ بنی آدم دَ لاسه خدمت آخلی، بلکه هغه په خپله ټول کائینات له ژوند اَؤ ساه اَؤ نور څیزُونه ورکوی... دَ دے موجُوده جهان دولتمند ته حُکم ورکړه چه مغرُور کیږی دِ نۀ، اَؤ په نا اِعتبار دولت نه، بلکه په خُدائے دِ اُمید ولری چه دَ مزو دَ پاره مُونږ له ټول څیزُونه ډیر زیاَت راکوی.

(اعمال ۱۴ : ۱۵ ، ۱۷ ، ۱۷ : ۲۵ ، اول تیموتیوس ۶ : ۱۷).

# خدائے مونږ ته هر وخت څه راکوی؟

بلکه دَ آسمان خُدائے په وړاندے تا خپل ځان اوچت کړو او دَ هغۀ د هیکل لوښی دِ راوړل او تا دَ خپلو بتانو حمد وکړو چه نه څه وینی نه اوری او نه پوهیږی او د هغه خُدائے تمجید دِ ونه کړو چه په لاس کښے ئے ستا دم دے... هم هغه زمونږ ځان ژوندے ساتی، او زمونږ ښپے ښوئیدو ته نه پریږدی... هغه به خامخا تاسو ملامت کوی که تاسو په پټه طرفداری کوئ... ولے چه زمُونږ دَ ژوندُون حرکت اَؤ شته والے په هغۀ کښے دے. لکه چه ستاسو خپلو څنو شاعرانو وئیلی دی، مُونږ هم دَ هغۀ دَ نسل نه یُو.
(دانی ایل **۵**: **۲۳**، زبور **۲۲**: **۹**، ایوب **۱۳**: **۱۰**، اعمال **۱۷**: **۲۸**).

# په شروع کښے خُدائے انسان څنګه جوړ کړو او کوم ځائے کینښود؟

نو خُدائے انسان په خپل صُورت پیدا کړو دَ خُدائے په صورت ئے نر او ښځه پیدا کړل. او خُدائے هغوی له برکت ورکړو او وئے فرمائیل چه لوئیږئ او زمکه معموره او مکمله کړئ او د سمندر په ماهیانو او د هوا په مارغانو او

په ټولو ځناورو چه په زمکه ګرځی اختیار لرئ، نو ما یواځې دا موندل چه خُدائے انسان راست جوړ کړو خو هغوئ د ځان د پاره ټرل تجویز کړل... او رب خُدائے په عدن کښې نمر خاتۀ ته یو باغ نهال کړو او هغه سړے چه ئے جوړ کړے وُو هلته ئے وساته او هره اونه چه ښائیسته ښکاریدله او په خوراک کښې ښه وه له زمکے نه وټوکوله او دَ باغ په مینځ کښې ئي هم دَ ژوندانه ونه او دَ نیکو او دَ بدو دَ پیژندلو ونه... او دَ باغ دَ اوبو کولو د پاره له عدن نه یو سیند ووت (پیدایښت ۱: ۲۷، ۲۸ واعظ ۷: ۲۹ پیدایښت ۲: ۸، ۱۰).

## آدم ته له دے باغ دَ مالک او خالق له طرف نه څنګه آزادی ورکړے شوه او دَ کُومې خبرے نه ممانعت وه؟

او رب خُدائے آدم ته حکم وکړ او وئے وئیل چه تۀ دَ باغ دَ هرى ونے میوه بے تپوسه خوړے شے، مګر دَ ښو او دَ بدو دَ پیژندلو له ونے نه هیڅرے ونه خورے ځکه چه په کومه ورځ چه تۀ له هغے نه وخورے تۀ به مړ شے (پیدایښت ۲: ۱۶، ۱۷).

# آیا آدم او حوا دَ هغې ونې میوه پرېښودله او نوره ټوله میوه ئې په خوشحالئ سره وخوړله او داسې دَ خُدائې په رفاقت کښې پاتې شول؟

مار حوا په خپله چلبازئ وغلوله. نو ښځې ولیدۀ چه ونه خوراک له ښه ده او سترګو له ښایسته ښکاری او دَ پوهې بخښلو د پاره ښه ده نو دَ هغې له میوې نه ئې واخیسته او وې خوړله او خپل سړی له ئې هم ورکړله نو هغۀ وخوړله.... پس مالک خُدائې مار ته ووئیل هر کله چه تا دا کار وکړ نو تۀ په ټولو څارویو کښې او د میدان له ټولو ځناورو نه ملعون یئې په خپله ګېډه به ځئې او په خپل ټول ژوندون کښې به خاورې خورې. او زه به ستا او د ښځې په مینځ کښې او ستا د اولاد او د هغې د اولاد په مینځ کښې دښمنی واچوم نو دې به ستا سر ټکوی او ته به د دۀ پونده چیچې. او ښځې ته ئې ووئیل چه ستا عذاب او ستا حمل به ډیر زیات کړم په عذاب سره به اولاد راوړې او خپل سړی ته به دِ شوق وی او دې به په تا باندې حکم کوی. او آدم ته ئې ووئیل چه هر کله تا د خپلې ښځې خبره واوریدله او له هغې ونې نه چه ما حکم کړې وه چه له هغې نه تۀ مه خوره، ودِ خوړله نو زمکه ستا په سبب لعنتی شوله او د خپل ټول ژوندون ورځې به په غم سره له دِ نه خورې. او هغه به ستا د پاره اغزی او مال کونډی وټوکوی او تۀ به د میدان شینکی

خورے. تۀ به د خپل مخ په خولو سره ډوډئ خورے یعنے تر هغه پورے چه زمکے ته ورو ګرزی چه ترے نه آخستے شوے یے ځکه چه ته خاوره یے او خاورو ته به ورګرزی.
(پیدا ایښت ۳: ۲، ۱۴-۱۹).

## بابا آدم او بی بی حوا باندے له دے نافرمانئ څه اثر وشو؟

نو مالک خدائے هغه د عدن باغ نه وویست چه د هغے زمکے چه دے ترے آخیستے شوے وۀ خدمت وکړی پس آدم ئي وشاړه... دَ یو سړی په وسیله ګُناه دُنیا ته راغله اَوُ دَ ګُناه په وسیله مرګ. اَوُ دغه شان مرګ په ټول انسانی نسل قبضه وکړله تر دے چه ټولو بنی آدمو ګُناه وکړله... ځکه چه دَ یو سړی په نافرمانئ ډیر ګُناه ګار شول نو هم دغه شان دَ یو سړی په فرمانبردارئ به ډیر صادق کړے شی.
(پیدا ایښت ۳: ۲۳-۲۴، رومیان ۵: ۱۲، ۱۹).

## آیا ټول خلق په طبعي طور او دَ کارونو په سبب دَ خدائے په مخکښے ګناه ګاران دی؟

مونږ ټول دَ ګډو په شان یو لارے شولو په مونږ کښے هر یو خپلے لارے ته وګرځیدو... رب له آسمان نه په بنی آدم باندے نظر وکړ چه ووینی چه څوک پوهان څوک د خدائے طالب شته یا نۀ؟ هغوئ ټول بے لارے شول. هغوئ په خپلو کښے سخا شول. څوک نیکو کار نشته، یو هم نۀ... یعنے دَ خُدائے له طرف نه صداقت چه په عیسیٰ مسیح دَ ایمان په وسیله هغه ټولو ته ورکړے شی، یعنے هغوئ ټولو ته چه په هغۀ ایمان راؤړی... په دوئ کښے هیڅ فرق نشته، ځکه چه ټولو ګُناه کړے ده اَؤ دَ خُدائے دَ لوئی نه محرُوم دی.
(یشعیاه ۵۳: ۶ زبور ۱۴: ۲-۳ رومیان ۳: ۲۲-۲۳).

## ګُناه څه ده؟ بائبل مقدس دَ دے په باب کښے څه ښائی؟

هر څوک چه ګُناه کوی،هغه نافرمانی کوی،ګُناه خو نافرمانی کول ده... خو سره دَ دے چه ټول بدکارُونه ګُناه دی... کبرژنے سترګے او مغروره زړۀ ګناه ده... نو بیا که

ځوک په ښو کولو پوهیږی اَؤ نۀ ئے کوی، دَ هغۀ دَ پاره دا ګُناه ده... دَ مرګ لشه ګناه ده...
(اول یوحنا ۳: ۴، ۵: ۱۷، امثال ۲۱: ۴، یعقوب ۴: ۱۷ اول کورنتیان ۱۵: ۵۶).

## آیا مونږ خپل ګُناهونه خُدائے نه پټولے شو؟

اَؤ دَ خُدائے نه دَ خلقو هیڅ ځیز پټ نۀ دے بلکه دَ چا سره چه زمُونږ حساب دے، دَ هغۀ په نظر کښے ټول ځیزُونه ځرګند اَؤ بے پړدے دی... ولے چه رب دَ بنی آدم په شان لیدل نۀ کوی ځکه چه بنی آدم ظاهر صورت ته ګوری خو رب زړۀ ته ګوری... (عبرانیان ۴: ۱۳، اول سموئیل ۱۶: ۷).

## د ګُناه انجام به څه وی؟

بلکه ستاسو بدو ستاسو او ستاسو دَ خُدائے په مینځ کښے جدائی راوستے ده او ستاسو ګُناهونو دَ هغۀ مخ تاسو نه پټ کړے دے... ځکه چه ټولو ګُناه کړے ده اَؤ دَ خُدائے دَ لوئی نه محرُوم دی. (یشعیاه ۵۹: ۲، رومیان ۳: ۲۳).

## هر کله چه مونږ ګناه کوو نو زمونږ حال څه وی؟

عیسیٰ ورته دا ووئیل چه رښتیا زَۂ تاسو ته دا وایم، هر څوک چه ګُناه کوی هغه دَ ګُناه غُلام دے... تاسو ته ښه معلُومه ده چه تاسو چه کُوم مالِک ته ځان وقف کړئ اَؤ دَ هغۂ فرمانبردار شئ نو دَ هغۂ غُلامان یئ. تاسو دَ ګُناه فرمانبرداری کولے شئ خو انجام به ئے مرګ وی، یا دَ خُدائے فرمانبرداری چه انجام ئے صداقت دے. (یوحنا ۸: ۳۴، رومیان ۶: ۱۶).

## انسان ته د ګُناه د اثر په باب کښے عیسیٰ مسیح څنګه تعلیم ورکوی؟

هغۂ وړاندے ووئیل، څۂ چه دَ انسان نه روازی هم هغه سړے پلیتوی... دا ټول بد کارُونَه دَ ننه نه راوُزی اَؤ دا سړے پلیتوی. (مرقوس ۷: ۲۰، ۲۳).

# د خُدائے کلام داسے بد کارانو ته څنګه تنبیه ورکوی؟

آیا تاسو خبر نۀ یئ څۀ چه بدکاران به دَ خُدائے دَ بادشاهئ وارثان نۀ شی؟ ځان مه غُلوئ،نۀ به حرام کاران دَ خُدائے دَ بادشاهئ وارثان شی، نۀ بُت پرستان، نۀ زِناکاران، نۀ عیاش، نۀ بچه بازان، نۀ غلۀ، نۀ حرصناک، نۀ شرابیان، نۀ کنځل مار اَؤ نۀ ټګان... خو هیڅ ناپاک څیز به ورننوتے نۀ شی اَؤ نۀ پلیت اَؤ نۀ دروغژن، خو صرف دَ هغه چا نُومُونه چه دَ ګډُوری دَ ژوندُون په کتاب کښے لیکلی دی... خو دَ ویریدُونکو، بے ایمانو، پلیتانو، قاتلانو، حرامکارانو، جادُوګرانو، بُت پرستانو اَؤ هر قسم دروغژنو برخه به په هغه تالاب کښے وی چه په کښے دَ ګُوګړو اور بلیږی، اَؤ دا دویم مرګ دے.
(اول کورنتیان ۶: ۹-۱۰، مکاشفه ۲۱: ۲۷، ۸).

# مرګ نه پس به څه وی؟

اَؤ لکه چه څنګه دَ بنی آدم دَ پاره یو ځل مړ کیدل، اَؤ پس له هغے عدالت کیدل مقرر دی... دَ خُدائے غضب له آسمان نه په هغه خلقو نازلیږی څوک چه حق په بے انصافئ پټوی

اَؤ تولے بے دینئ اَؤ ناراستئ کوی... ځکه چه خدائے به هر یو کار له هر یو پټ څیز سره که ښه وی که بد عدالت ته راوړی... ځکه چه هغهٔ یوه ورځ مُقرر کړے ده چه هغه به دَ دُنیا عدالت په صحیح صداقت سره دَ یو داسے سړی په وسیله وکړی چه هغهٔ غوره کړے دے اَؤ دغه شان ئے هر چا ته ثابته کړه چه هغه ئے له مړو نه بیا راژوندے کړو!... په هغه ورځ به خُدائے دَ اِنسان دَ پټو خیالُونو عدالت دَ عیسیٰ مسیح په وسیله زما دَ زیری په مُطابق وکړی.
(عبرانیان ۹: ۲۷، رومیان ۱: ۱۸، واعظ ۱۲: ۱۴، اعمال ۱۷: ۳۱، رومیان ۲: ۱۲).

## په هغه ورځ به ټول خلق څه کوی؟

ځکه چه له مُونږ نه هر یو به خُدائے ته حساب ورکوی... زهٔ تاسو ته دا وایم چه داسے یو بے فائدے ټکے هم نِشته چه سړے ئے دَ خُلے نه راوباسی اَؤ دَ قیامت په ورځ به دَ هغے حساب نهٔ ورکوی.
(رومیان ۱۴: ۱۲، متی ۱۲: ۳۶).

## هغه بدکاران چه په رښتیا توبه ونهٔ باسی آخری حال به ئے څنګه وی؟

... اَؤ چه ګُناه زیاته شی نو مرګ پیدا کوی... ما لوئے اَؤ وارۀ مړی دَ تخت دَ وړاندے ولاړ ولیدل اَؤ کتابُونه پرانستلے شول. بیا یو بل کتاب پرانستلے شو، یعنے دَ ژوندُون کتاب. په دے کتابُونو کښے څۀ چه دَ مړو دَ عملُونو لیکلی وُو دَ هغے په مُطابق دَ هغوئ عدالت وشو. سمندر خپل مړی چه په کښے وُو، ورکړل اَؤ مرګ اَؤ عالم ارواح په خپله قبضه کښے چه مړی وُو، ورکړل اَؤ دَ ټولو عدالت دَ هر چا دَ خپل عمل په مُطابق وشو. بیا مرګ اَؤ عالم ارواح دَ اور تالاب ته وغورزولے شول، دَ اور تالاب دویم مرګ دے. اَؤ په دے کښے هغه کسان وغورزولے شول، دَ چا نومُونه چه دَ ژوندُون په کتاب کښے درج نۀ وُو. (یعقوب ۱: ۱۵، مکاشفه ۲۰: ۱۲-۱۵).

## مونږ ته خُدائے په دے خطرناک حالت کښے په خپل فضل سره څه راکړی دی چه دَ ګناه دَ غُلامئ نه اَؤ دَ راتکونکی غضب نه بچ شو؟

چه نن دَ داؤد په ښار کښې ستاسو خلاصُونکے پيدا شوے دے چه هغه مسيح مالک دے!... چا چه خپل ځان زمُونږ دَ پاره ورکړو چه مُونږ دَ هر قِسم نافرمانبردارئ نه خلاص کړى اَؤ پاک مو کړى، اَؤ په خپل خاص ملکيت کښې مو يو داسې خلق وګرزوى کُوم چه دَ ښۀ کارُونو دَ پاره په کار آخته وى... دَ دے دَ پاره چه څوک دَ دَۀ په وسيله خُدائے ته راځى هغه هغوئ ته پُوره پُوره خلاصُون ورکولے شى ځکه چه هغه دَ هغوئ دَ شفاعت دَ پاره هميشه ژوندے دے.
(لوقا ۲: ۱۱، تيطوس ۲: ۱۴، عبرانيان ۷: ۲۵).

## دا خلاصونکے عيسىٰ مسيح څوک دے؟

... اَؤ دَ هغۀ نُوم دَ خُدائے کلام دے... په ازل کښې کلام وُو اَؤ کلام دَ خُدائے څخه وو اَؤ کلام خُدائے وو،... نو کلام جُسه شو اَؤ هغه زمُونږ سره اوسيدو اَؤ مُونږ دَ هغۀ لوئى وليده، داسې لوئى لکه چه دَ پلار دَ يو زوئے چه په فضل اَؤ حقيقت معمُور وى... هغه چه دَ اِنسان په شکل کښې ظاهر شو، اَؤ دَ رُوح په وسيله رښتُونے پاتې شو،... ګورئ، يوه پيغله به اُميدواره شى اَؤ زوئے به ئے وشى اَؤ دَ هغۀ نُوم به عمانوايل کيږدى. چه معنىٰ ئے ده، خدائے زمونږ مل دے... فرښتے جواب ورکړو، "رُوحُ القُدس به په تا نازل شى اَؤ دَ الاعلىٰ قُدرت به په تا سورے وکړى اَؤ په دے

وجه به هغه پاک پیدا کیدُونکے ماشُوم دَ خُدائے زوئے بللے شی... اَؤ دَ هغۀ په چُوغه اَؤ په پتُون دا نُوم لیکلے دے چه: دَ بادشاهانو بادشاه اَؤ دَ مالکانو مالک. (مکاشفه ۱۹ : ۱۳ یوحنا ۱ : ۱ ، ۱۴ اول تیمَوتیوس ۳ : ۱۲ متی ۱ : ۲۳ لوقا ۱ : ۳۵ مکاشفه ۱۹ : ۱۲).

## دَ خُدائے زوئ دے دُنیا ته ولے راغے؟

دا خبره رښتیا اَؤ په هر طور دَ قبلولو جوګه ده،چه مسیح عیسیٰ ګناه ګارانو ته دَ خلاصُون ورکولو دَ پاره دُنیا ته راغے، چه په هغوئ ټولو کښے لوئے زَۀ یم... خُدائے خپل زوئے دُنیا ته دَ دُنیا دَ مُجرم کولو دَ پاره نۀ دے رالیږلے بلکه دَ دے دَ پاره چه دَ هغۀ په وسیله دُنیا خلاصُون بیا مُومی.

(اول تیموتیوس ۱ : ۱۵ ، یوحنا ۳ : ۱۷).

## دَ خُدائے زوئے عیسیٰ مسیح څه وکړل چه مونږ ته خلاصون ملاؤ شی؟

اَؤ داسے مینه کوئ لکه چه مسیح تاسو سره وکړله اَؤ زمُونږ دَ پاره ئے خپل ځان دَ خوشبوئ په شان خُدائے ته نذرانه کړو

اَؤ قُربان شو... دَ زمانو په آخر کښې يو ځل ظاهر شو چه دَ خپل ځان په قُربان کولو ګُناه لرے کړي... مسيح ستاسو دَ ګُناهُونو دَ خاطره يو ځل هميشه دَ پاره مړ شو، يعنے صادِق دَ ګُناه ګارانو دَ پاره، دَ دے دَ پاره چه مُونږ خُدائے تَه ورسوي.
هغه په جسمانی طور مړ کړے شو خو په رُوحانی طور ژوندے کړے شو... خو خُدائے خپله مينه مُونږ ته داسے ښکاره کړه، کله چه مُونږ لا ګُناه ګار وو نو مسيح زمُونږ دَ پاره مړ شو!
(افسيان ۵: ۲، عبرانيان ۹: ۲۲، اول پطروس ۳: ۱۸، روميان ۵: ۸).

## مونږ دَ دے لوئے خبرے نه چه مسيح زمونږ دَ خلاصون د پاره مړ شو دَ ګناه ګارانو سره دَ خدائے دَ سلوک په حقله څه زده کوو؟

اَؤ دَ هغۀ مينه مُونږ ته په دے شان ښکاره شوه چه هغۀ دے دُنيا ته خپل يکی يو زوئے دَ دے دَ پاره راوليږلو چه مُونږ دَ هغۀ په وسيله ژوندُون ولرُو. مينه په دے کښے نۀ ده چه مُونږ له خُدائے سره مينه وکړله بلکه په دے کښے ده چه هغۀ مُونږ سره مينه وکړله، اَؤ زمُونږ دَ ګُناهُونو دَ کِفارے دَ

پاره ئې خپل زوئې راوليږلو... خُدائې دَ دې دُنيا سره داسې مينه وکړله چه خپل يکى يو زوئې ئې هم ورکړو چه هر هغه څوک چه په زوى ئې ايمان راؤړى هغه هلاک نۀ شى خو دَ تل عُمرى ژوندُون بيا مُومى.
(اول يوحنا ۴: ۹-۱۰، يوحنا ۳: ۱۲).

## اوس خُدائې هر يو ته کوم ضُرورى حکم ورکوى؟

تر څو چه دَ ناپوهئ دَ وخت تعلق وو نو خُدائې ځان پرې نا غرض کړې وو خو اوس هغه هر چرته ټولو بنى آدمو له حُکم ورکوى چه توبه گار شى... نو توبه وکړئ اَؤ خُدائې ته راوګرزئ چه ګُناهُونه به مو معاف کړى... مالک په خپل لوظ کښې ډيل نۀ کوى لکه چه بعضې خلق ډيلَ ګڼى بلکه ستاسو په باب کښې صبر کوى، دَ پاره دَ دې چه دَ چا هلاکت نۀ غواړى بلکه دا غواړى چه ټولو خلقو ته دَ توبې موقعه ورکړې شى.
(اعمال ۱۷: ۳۰، ۳: ۱۹، دويم پطروس ۳: ۹).

## هغه کوم یو شرط دے چه دَ هغې نه ګناه ګار دَ ګناه نه او دَ راتلونکی غضب نه بچ کیدے شی؟

هغوئ ووئیل چه په مالک عیسیٰ باندے ایمان راؤړه اَؤ تهٔ اَؤ ستا کورنئ به خلاَصُون ومُومی... دَ هغهٔ په حقله ټولو نبیانو دا شهادت کړے دے چه هر هغه څوک چه په هغهٔ ایمان لری نو دَ هغهٔ په نُوم به دَ ګُناهُونو نه معافی بیا مُومی... ځکه چه تاسو دَ ایمان په وسیله په فضل خلاصُون مُوندلے دے، دا ستاسو له طرفه نه نهٔ،بلکه دَ خُدائے بخښنه ده. اَؤ دا دَ عملُونو په سبب نهٔ ده، دَ پاره دَ دے چه څوک فخر ونهٔ کړی... څوک چه په زوئے ایمان راؤړی نو هغه دَ تل ژوندُون لری،خو څوک چه دَ زوئے نافرمانی وکړی هغه به دا ژوندُون ونهٔ وینی لیکن دَ خُدائے غضب په هغهٔ دے.

(اعمال ۱۶: ۳۱، ۱۰: ۴۳، افسیان ۲: ۸-۹، یوحنا ۳: ۳۶).

## آیا بے له مالک عیسیٰ مسیح نه د بل چا نه هم خلاصون موندے شی او که نه؟

یو مالک دے، یو ایمان، یوه بپتسمه... بلکه زمُونږ دَ مالکَ اَؤ خلاصوُونکی عیسیٰ مسیح په فضل اَؤ علم کښے ورِاَندے شئ. دَ هغۀ جلال دِ اوس هم وی اَؤ تل تر تله دِ وی! آمین... دَ بل هیچا په وسیِله خلاصُون نِشته ځکه چِه په ټوله دُنیا کښے بل نُوم هیچا ته نۀ دے ورکړے شوے چه په هغے مُونږ خلاصُون ومُومو.

(افسیان ۴: ۵، دویم پطروس ۳: ۱۸، اعمال ۴: ۱۲).

## خُدائے مونږ ته کتاب مقدس ولے بخښلے دے؟

... دا تش په دے غرض دی چه تاسو په دے ایمان راؤړئ چه عیسیٰ هم مسیح دے، یعنے دَ خُدائے زوئے، اَؤ دَ ایمان راؤړلو په وسیله دَ هغۀ په نوم ژوندُون ولرئ... دا دَ دے دَ پاره چه تا ته دَ هغه خبرو په حقله صحیح معلُومات درکړم دَ کُومو نه چه تۀ خبر کړے شوے یئے... دا مُونږ ځکه لیکُو چه زمُونږ خوشحالی پُوره شی.

(یوحنا ۲۰: ۳۱، لوقا ۱: ۴، اول یوحنا ۱: ۴).

# پاکې نوشتې څه کوِلې شي؟

اَؤ تۀ دَ وړُوکوالی راسې دَ هغو پاکو نوشتو نه خبر يئې، کُومې چه تا ته په عيسیٰ مسيح دَ ايمان راوړلو دَ پاره خلاصون مُوندلو دَ پاره پوهه دربخښلې شي... تاسو څکه ټول پليتوالې اَؤ دَ بدئ ګند لرې کړئ، اَؤ هغه کلام ډير په عاجزئ سره قبُول کړئ چه په زړۀ کښې کرلې شوې اَؤ تاسو له خلاصُون درکولې شي... اَؤ اوس زَۀ تاسو دَ مالک اَؤ دَ هغۀ دَ فضل کلام ته سپارم چه ستاسو دَ مضبُوطَولو اَؤ په هغه ټولو کښې چه ځانُونه ئې ورته سپارلی دی خپل ميراث درکولې شي.

(دويم تيموتيوس ۳: ۱۵، يعقوب ۱: ۲۱، اعمال ۲۰: ۳۲).

# عيسی مسيح هغوی ته چه ايمان سره کلام آوری د څه زيرے ورکوی؟

رښتيا رښتيا تاسو ته وايم، کُوم سړے چه زما خبرو ته غوږ ږدی اَؤ په هغه چا باور لری چه زَۀ ئې را استولې يم هغه تل عُمری ژوندوُن لری اَؤ په هغۀ به دَ سزا حُکم ونۀ شي

ځکه چه هغه دَ مخکښې نه دَ مرګ نه ژوندُون ته آؤړيدلے دے. (يوحنا **۵**: **۲۴**).

## عیسی مسیح هغوی ته چه دَ هغهٔ کلام نهٔ قبلوی څنګه نصیحت ورکوی؟

څوک چه زما نه انکار کوی اَؤ څوک چه زما خبرے نهٔ قبلوی، دَ هغهٔ دَ پَاره مُنصف شته یعنے هغه کلام چه ما کړے دے، هغه به په آخری ورځ دَ هغهٔ عدالت کوی.
(یوحنا ۱۲ : ۴۸).

## خُدائے دَ کلام اوریدونکو نه څه غواړی؟

خو په کلام عمل کوُونکی جوړ شئ، نهٔ چه تش آؤریدُونکی چه ځان په دوکه ساتی... هر هغه څوک چه ماته مالک مالِک وائی هغه به دَ آسمان په بادشاهئ کښے داخلَ نهٔ شی، خو صرف هغه څوک چه زما دَ آسمانی پلار په رضا کار کوی.
(یعقوب ۱ : ۲۲ ، متی ۷ : ۲۱).

## دَ عیسی مسیح کلام اوریدونکی او منونکی به دَ چا په شان وی؟

اَؤ هغه سړے څوک چه زما دا خبرے آؤری اَؤ عمل پرے کوی، هغه به دَ هغه هوښیار سړی په شان وګڼلے شی چا چه خپل کور په یو مضبُوط ګټ باندے ودان کړے وو. اَؤ چه باران وشو، سیلاب راغے، زُول تیر شو اَؤ دَ دهٔ کور سره ئے ټکرے وخوړے، خو دا راپرے نهٔ وتو ځکه چه بنیادُونه ئے په یو مضبُوط ګټ باندے وو. (متی ۷: ۲۴-۲۵).

## هغه څوک چې کلام اوری او نهٔ ئے منی هغه دَ چا په شان دے؟

خو دَ هغه چا به څهٔ انجام وی چه زما دا خبرے آؤری اَؤ عمل پرے نهٔ کوی؟ دَ هغهٔ مِثال دَ هغه ناپوهه سړی دے چا چه په شګو خپل کور جوړ کړے وو. باران ووریدو، سیلاب راغے، زُول تیر شو اَؤ دَ دے کور سره ئے ټکرے وخوړے اَؤ راپریوتو اَؤ برباد شو.
(متی ۷: ۲۲-۲۷)

## ایمان څنګه پیدا کیږی او زیاتیږی؟

اَۇ ایمان دَ زیری په آۇریدو پیدا کیږی اَۇ آۇریدل دَ مسیح په باب کښے دَ زیری ورکولو نه... خو خبردار شئ چه تاسو څنګه آۇرئ ځکه چه دَ چا سرِه سره چه څۀ وی هغۀ له به زیات ورکړے شی اَۇ دَ چا سرِه سره چه څۀ نۀ وی نو دَ هغۀ نه به چه څۀ ورسره وی هغه به هم ترے واخستے شی... که تاسو نن دَ هغۀ آواز واۇرئ،نو خپل زړُونه هغسے مه سختوئ لکه چه مو دَ غُصے راوستو په وخت کړی وُو.
(رومیان ۱۰: ۱۷، لوقا ۸: ۱۸، عبرانیان ۳: ۱۵).

## مونږ به دَ خپل مالِک او خلاصونکی په فضل او پیژندګلئ کښے څنګه ترقی کوو؟

دَ نۇو پیدا شوو بچو په شان دَ خالص رُوحانی پیو خواهشمند اوسئ چه دَ هغو په وسیله دَ خَلاصُون مُوندلو دَ پاره لوئیږئ... زما دوستانو! تاسو خپل ځانُونه دَ خپل غوره ایمان په بُنیاد قائم کړئ اَۇ دَ رُوحُ القُدس په طاقت دُعاګانے کوئ... دَ مالک کلام واوره... دَ دے دَ پاره مُونږ هم هر وخت دَ خُدائے شُکر کوُو چه هر کله دَ خُدائے پیغام زمُونږ په معرفت تاسو ته دروړسیدو نو تاسو هغه دَ بنی

آدمو دَ کلام په شان نه، بلکه څنګه چه په حقیقت کښې دے، دَ خُدائے کلام مو وګڼلو اَؤ قبُول مو کړو، اَؤ په تاسو کښې چا چه ایمان راؤړو، په هغوئ کښې ئے تاثیر هم وکړلو... دَ دے دَ پاره چه مُونږ نور وړاندے ماشُومان پاتے نۀ شُو اَؤ دَ خلقو دَ چل ول اَؤ مکارئ په تعلیم لکه دَ چپو دیخوا اخوا نۀ ګرزُو. داسے تعلیم ورکووُونکی دَ خپلو منصُوبو په وجه خلق ګمراه کوی.
(اول پطروس ۲: ۲، یهوداه ۲۰، یرمیاه ۲۲: ۲۹، اول تسالونیکیان ۲: ۱۳، افسیان ۴: ۱۴-۱۵).

## مونږ خپل چال چلن څنګه پاک وساتو؟

بلکه لکه چه ستاسو رابلُونکے پاک دے هم هغه شان تاسو هم په خپل ټول چال چلن کښے پاک شئ لکه چه صحیفے وائی چه ((پاک شئ ځکه چه زَۀ پاک یم))... ځوان به څنګه خپل چال چلن پاک وساتی؟ ستا دَ کلام په مطابق په هغے نظر ساتلو سره... دوئ دَ حقیقت په وسیله مُقدس کړه، ستا کلام حقیقت دے... ستا کلام زما دَ قدمونو دَ پاره ډیوه ده او زما دَ لارې رڼا ده... ما ستا کلام په زړۀ کښے کیښودو چه زه ستا په خلاف ګُناه ونۀ کړم (اول پطروس ۱: ۱۵-۱۶، زبور ۱۹: ۹، یوحنا ۱۷: ۱۷، زبور ۱۱۹: ۱۰۵، ۱۱).

## دَ خُدائے کلام په خاندانی ژوندون کښے په څه شان سره په عمل کښے راوستل پکار دی؟

او دا خبرے چه ئے زه نن تا ته حکم کوم ستا په زړهٔ دِ لیکلے وی... او ته دا دَ خپل اولاد په مغزو کښے واچوه، او کور کښے په ناسته، په لار روان اَؤ په ملاسته او پاڅیدو په وخت دَ دوی ذکر کوه... خو ته ئے خپلو زامنو او نمسیو ته زده کړه... چه راتلونکے پیړۍ یعنی هغه زامن چه به زیږیږی، هغوئ وپیژنی او چه لوئے شی نو خپل اولاد ته وښائی چه هغوی دِ په خُدائے اسره کوی، او دَ هغه کارونه هیر نهٔ کړی، خو دَ هغه په حکمونو عمل وکړی.
(استثنا ۶: ۶-۷، ۴: ۹، زبور ۷۸: ۶-۷).

## دَ خُدائے پلار او دَ عیسیٰ مسیح دَ شاګردانو په مینځ کښے څهٔ رنګ رشته ده؟

ځکه چه سره دَ دے چه مُونږ دَ خُدائے دُښمنان وُو نو مونږ دَ هغهٔ دَ زوئے دَ مرګ په وسیله ورسره پُخلا شوُو اؤ دَ دے نه زیات دَ هغهٔ دَ زوئے دَ ژوند په وسیله به بچ شو!... خو تاسو چه اول لرے وئ اَؤ دَ مسیح په یووالی کښے دَ مسیح دَ

وینے په وسیله نزدے شوئ... ځکه چه تاسو ټول دَ هغه ایمان په وسیله کُوم چه په مسیح عیسیٰ دے، دَ خُدائے زامن یئ... خُدائے دَ دے دُنیا سره داسے مینه وکړله چه خپل یکی یو زوئے ئے هم ورکړو چه هر هغه څوک چه په زوی ئے ایمان راؤړی هغه هلاک نهٔ شی خو دَ تل عُمری ژوندُون بیا مُومی... خو کومو خلقو چه قبُول کړو هغوئ ته ئے دا حق ورکړو چه دَ خُدائے اؤلاد شی یعنے هغوئ چه دَ هغهٔ په نامه ایمان راؤړی، چه نهٔ له وینے نه اَؤ نهٔ له جسمانی شوق اَؤ نهٔ دَ اِنسانی پلار په اِرادے بلکه له خُدائے نه پیدا شو... خوږو دوستانو! مُونږ اوس هم دَ خدائے بچی یُو خو په دِے نهٔ پوهیږو چه څنګه به شُو، خو مونږ په دے پوهیږُو چه هر کله چه عیسیٰ راښکاره شی نو مُونږ به دَ هغهٔ په شان شُو ځکه چه مُونږ به ئے هم په هغه شان ووینُو څنګه چه هغه دے... ځکه چه هر څوک چه دَ خُدائے د رُوح په هدایت چلیږی، هغه دَ خُدائے بچی دی.

(رومیان ۵: ۱۰، افسیان ۲: ۱۳، ګلتیان ۳: ۲۶، یوحنا ۳: ۱۶، ۱: ۱۲-۱۳، اول یوحنا ۳: ۲، رومیان ۸: ۱۴).

# دَ عیسیٰ مسیح شاګردان دَ کتاب مقدس نه څه زده کوی؟

لنډه دا چه اَئے ورونړو! مُونږ تاسو ته دا خواست کوُو اَؤ دَ مالِک عیسیٰ په نُوم تاسو ته نصیحت کوُو چه څۀ رنګ چه تاسو زمونږ نه دَ مُناسب چال چلن اَؤ دَ خُدائے دَ خوشحالولو تعلیم مُوندلے وُو اَؤ څنګه چه تاسو چلن کوئ هم هغسے دِ ترقی ومُومئ... ځکه چه دَ خُدائے فضل دَ ټولو خلقو دَ خلاصون دَ پاره ظاهر شوے دے... اَؤ مُونږ ته دا ښائی چه بے دینی اَؤ دُنیاوی خواهشُونه پریږدُو اَؤ په موجُوده جهان کښے په پرهیزګارئ، صداقت اَؤ دینداریٔ سره ژوند تیر کړُو... دَ دے دَ پاره چه ستاسو چال چلن دَ مالِک لایق وی اَؤ دَ هغۀ په هر شان خوښ شئ، اَؤ په تاسو کښے دَ هر قِسم نیک کار میوه وشی، اَؤ دَ خُدائے په پیژندګلو کښے په لوئیدو شئ. (اول تسالونکیان ۴: ۱، تیطوس ۲: ۱۱-۱۲، کولوسیان ۱: ۱۰).

# دَ عیسیٰ مسیح شاگردان دَ کاملے نمُونے دَ پاره چرته ګوریٔ؟

اَؤ دَ ایمان بانی اَؤ کاملوُونکی عیسیٰ ته وګُورو چه دَ هغے خوشحالیٔ په ځائے چه دَ هغهٔ دَ نظر دَ وړاندے وه، دَ شرمندګیٔ پرواه ئے ونهٔ کړه خو دَ سولیٔ تکلیف ئے وزغملو اَؤ دَ خُدائے دَ تخت په ښی لاس کښیناستو... اَؤ تاسو دَ دے دَ پاره رابللی شوی یئ، ځکه چه مسیح هم ستاسو دَ پاره مصیبت وزغمو اَؤ تاسو ته ئے یوه نمُونه درکړے ده چه دَ هغهٔ په قدم روان شئ. ((نهٔ هغهٔ څهٔ ګُناه وکړه، اَؤ نهٔ دَ هغهٔ دَ خُلے نه دَ څهٔ فریب خبره ووتله.)) نهٔ هغهٔ دَ کنځلو په بدل کښے کنځل کول اَؤ نهٔ ئے په مُصیبتُونو زغملو چا ته دپکه ورکوله بلکه خپل ځان ئے رښتُونی اِنصاف کوُونکی ته وسپارلو.

(عبرانیان ۱۲: ۲، اول پطروس ۲: ۲۱-۲۳).

## دَ عیسیٰ مسیح شاګردان په څه شان پیژندلی کیږی؟

زَهٔ تاسو ته نوے حُکم درکوم: دَ یو بل سره مینه کوئ، لکه چه ما تاسو سره مینه کړے ده دغه شان تاسو هم دَ یو بل سره مینه کوئ... که تاسو دَ یو بل سره مینه کوئ نو بیا به ټول په دے پوهه شئ چه تاسو زما مُریدان یئ. (یوحنا ۱۳: ۳۴-۳۵).

## دَ عیسیٰ مسیح شاګردانو ته دَ خپلو دښمنانو سره څنګه سلوک کول پکار دے؟

تهٔ داسے مه وایه چه زه به دَ بدئ بدل اخلم، په رب اسره کوه او هغه به تا بچ کوی... خو تاسو چه آؤرئ، زَهٔ تاسو ته دا وایم چه دَ خپل دُښمن سره مینه کوئ اَؤ هغه څوک چه تاسو سره کینه لری دَ هغوئ سره ښهٔ کوئ. دَ هغوئ دَ پاره برکت غواړئ څوک چه په تاسو لعنت کوی اَؤ دَ هغوئ دَ پاره دُعا کوئ څوک چه په تاسو تُهمتُونه لګوی... دَ هر قِسم تریخوالی، قهر، غضب، شور زوږ، بد خواهش اَؤ بد خویُونه دِ له تاسو نه لرے وی. اَؤ هر یو په بل مهربانه

اوسئ اَؤ یو تر بله نرمی کوئ، اَؤ لکه چه خُدائے په مسیح کښے ستاسو ګُناهُونه معاف کړل، تاسو هم یو بل معاف کوئ. (امثال ۲۰: ۲۲، لوقا ۶: ۲۷-۲۸، افسیان ۴: ۳۱-۳۲).

## آیا دَ مسیح شاګردانو ته خپل بدل اخیستل روا دی؟

آیا په تاسو کښے دا جُرات څنګه وشو چه هر کله چه ستاسو دَ بل چا سره جګړه وی نو دَ فیصلے دَ پاره بے دینه خلقو ته ځئ اَؤ پاکانو ته نهٔ ځئ؟... اَئے زما عزیزانو! خپل بدل مه آخلئ بلکه خُدائے ته موقع ورکړئ، ځکه چه دا لیکلی شوی دی چه: ((خدائے فرمائی چه بدل اخستل زما کار دے، بدل به زهٔ اخلم.)) تر دِے چه: ((که دُښمن دِ وږے وی نو هغهٔ له هم ډوډئ ورکړه اَؤ که تږے وی نو اوبهٔ ورله ورکړه، ځکه چه ستا په داسے کولو به اور پرے بل شی.)) دَ بدئ نه معلُوب کیږه مه بلکه دَ نیکئ په وسیله په بدئ غالب شه... ځکه چه که څوک دَ خُدائے په خیال ناحق مُصیبتُونه اَؤ دړد وزغمی نو دا غوره ده. ځکه چه که تاسو په ګُناه کولو سُوکُونه وخوړل اَؤ صبر مُو وکړو، نو فخر دَ څهٔ خبرے؟ خو که په نیکئ کولو مُصیبت وزغمئ نو دَ

خُدائے په نِزد دا غوره ده... نو بيا په هغه چا غور وکړئ چا چه دَ گُناه گارانو دومره مُخالفت وزغملو، چه تاسو هِمت بائیے نهٔ لئ.
(اول کورنتيان ۲ : ۱ ، روميان ۱۲ : ۱۹-۲۱ ، اول پطروس ۲ : ۱۹-۲۰ ، عبرانيان ۱۲ : ۱۳).

## آيا دَ مسيح شاگردانو لره دَ دُنيا چال چلن ساتل روا دی؟

چا چه زمُونږ دَ گُناهُونو دَ پاره خپل ځان قُربان کړو چه مُونږ دَ دے موجُوده بدے زمانے نه بچ کړی، لکه چه زمُونږ دَ خُدائے اَؤ پلار رضا ده. دَ هغهٔ جلال دِ تل تر تله وی! آمين... خپل ځان دَ دے موجُوده دُنيا په شَان مه جوړوئ، بلکه بويه چه ستاسو پوهه بيا نوے کړے شی اَؤ دَ دے په وسيله ستاسو فطرت بلکل بدل شی. بيا به هله تاسو دَ دے قابل شئ اَؤ په دے به پوهه شئ چه دَ خُدائے رضا څهٔ ده اَؤ دا به وپيژنئ چه هغه ښه څهٔ دے چه قبليدُونکے اَؤ کامل دے... دَ دُنيا اَؤ دَ هغے دَ څيزُونو سره مينه مه لرئ، ځکه چه څوک چه دَ دُنيا سره مينه لری، په هغهٔ کښے دَ خُدائے پلار مينه نِشته.

## په قرض اخستلو کښې دَ مسيح دَ شاګردانو فرض څه دے؟

که يو سړی له خپل ګاونډی نه کوم څاروے قرض واخلی أؤ هغه ژوبل يا مړ شی او مالک هلته نه وی نو هغه دِ خامخا دَ هغې معاوضه ورکړی... په خپلو کښې دَ مُحبت نه بغير په بل هيڅ څيز کښې هم دَ چا پور په ځان مه ساتئ ځکه چه څوک چه دَ بل سره مُحبت کوی، هغۀ په شريعت پُوره عمل وکړو... تا ته دا حکمونه معلُوم دی چه
((قتل مه کوه، زِنا مه کوه، غلا مه کوه، دَ دروغو ګواهی مه کوه، ټګی مه کوه أؤ دَ خپل مور أؤ پلار عزت کوه.))
(خروج ۲۲ : ۱۴، روميان ۱۳ : ۸، مرقوس ۱۰ : ۱۹).

## دَ مسيح دَ شاګردانو دَ پاره په څه شان خبرے کول پکار دی؟

نو بس دروغ وئيل پريږدئ أؤ هر څوک دِ دَ خپل ګاونډی سره رښتيا ووائی ځکه چه مُونږ ټول دَ يو بدن اَندامُونه يُو... ستاسو دَ خُلے نه دِ هم يوه خرابه خبره ونۀ شی بلکه هغه ښه خبره چه دَ ضرورت په مُطابق دَ ترقئ دَ پاره غوره

وی، دَ دے دَ پاره چه دَ هغې له مخې دَ هغې په آؤریدُونکو فضل کیږی... دَ مسیح کلام دِ ستاسو په زړُونو کښې ځائے ومُومی، اَؤ په خپلو کښې یو بل ته تعلیم ورکوئ اَؤ نصیحت کوئ، اَؤ په خپلو زړُونو کښې دَ شُکر ګُزارئ سره دَ خُدائے ثنا، زبور اَؤ رُوحانی سندرے وایئ... بلکه لکه چه ستاسو رابلُونکے پاک دے هم هغه شان تاسو هم په خپل ټول چال چلن کښې پاک شئ.
(افسیان ۴: ۲۵، ۲۹ کولوسیان ۳: ۱۲ اول پطروس ۱: ۱۵).

## په کتاب مقدس کښې دَ مسیح دَ شاګردانو دَ لباس په باب کښې څه لیکلی دی؟

اَؤ ستاسو ډول اَؤ سنګار د ظاهری نهٔ وی، یعنے سر څښے کول اَؤ دَ سرو زرو کالی اَؤ قِسما قِسم جامے آغوستل، بلکه ستاسو دَ غیر فانی سنګار ډول دِ په باطنی اِنسانیت کښې، په حلیمئ اَؤ دَ آرامئ په رُوح کښې وی، چه دَ خُدائے په نزد ډیر قیمتی دے... هم دغه شان ښځے دِ هم په حیاداره جامه کښې دَ شرم اَؤ پرهیزګارئ سره خپل ځانُونه سمبالوی، نهٔ په کونځو اَؤ سرو زرو اَؤ ملغلرو اَؤ قیمتی جامو سره.

(اول پطروس ۳: ۳-۴، اول تیموتیوس ۲: ۹).

# دَ مسیح شاګردانو ته دَ نورو خلقو سره څنګه سلوک کول پکار دی؟

دَ دے دَ پاره چه دَ غیر ایماندارانو سره دَ سړیتوب سلُوک کوئ اَؤ دَ هیچا مُحتاج مۀ شئ... ځکه چه مُونږ دَ داسے څیزُونو تدبیر کوُو چه هغه نۀ صرف دَ خُدائے په مخکښے غوره وی بلکه دَ خلقو په مخکښے هم... غل دِ بیا غلا ونۀ کړی بلکه ښۀ ښۀ کسب دِ شروع کړی اَؤ په خپلو لاسُونو دِ محنت اَؤ ګټه کوی، دَ دے دَ پاره چه حاجتمندو ته دَ ورکولو دَ پاره دَ هغۀ سره هم څۀ وی... چه تاسو تنګوی دَ هغوئ خیر غواړئ، برکت ئے غواړئ، بد ورته مه وایئ... ما تاسو ته ښکاره کړه چه په مُشقت سره دَ کمزورو مدد په دے شان وکړئ اَؤ دَ مالِک عیسیٰ خبرے درته یاد ساتل په کار دی چه په خپله ئے وئیلی دی چه دَ آخستلو نه ورکړه غوره ده... دَ بدئ په بدله کښے دَ چا سره بدی مه کوئ. کُومے خبرے چه دَ هر چا په نظر کښے ښے دی، هم هغه کوئ... ځکه چه ټول شریعت یواځے په دے حُکم څوړند دے، یعنے په دے چه: «تۀ دَ خپل ګاونډی سره دَ خپل ځان په شان مینه لره.» (اول تسالونکیان ۴: ۱۲ دویم کورنتیان ۸: ۲۱، افسیانو ۴: ۲۸ رومیانو ۱۲: ۱۴ اعمال ۲۰: ۳۵ رومیان ۱۲: ۱۷ ګلتیان ۵: ۱۴).

# په کتاب مقدس کښې دَ مسیح دَ شاګردانو دَ خاندانی فرایض او چال چلن په باب کښې څه لیکلی دی؟

اَئے بچو! ایماندارانو ته په کار دی چه دَ خپل مور اَؤ پلار حُکم منی ځکه دا ښه کار دے. ((دَ خپل پلار اَؤ دَ خپلے مور عزت کوئ،)) دا اول حُکم دے چه دا لوظ هم ورسره دے چه ((ستا په کښې خیر دے اَؤ په مزکه به دِ عُمر ډیر شی.)) اَؤ اَئے پلارانو! تاسو خپلو بچو له غصه مه ورولئ بلکه دَ مالک په طریقه هغوئ ته تربیت اَؤ نصیحت کوئ اَؤ پرورش ئے کوئ... اَئے خاوندانو! دَ خپلو ښځو سره مینه کوئ لکه څنګه چه مسیح دَ جماعت سره مینه کړے ده اَؤ خپل ځان ئے دَ هغهٔ دَ پاره مرګ ته سپارلے دے... اَئے خاوندانو! دغه شان تاسو هم دَ خپلو ښځو سره په عقلمندئ ګُزاره کوئ اَؤ ښځے نازک لوښی وګڼئ، عزت ئے کوئ اَؤ داسے ګڼئ چه مُونږ دواړه دَ ژوند دَ نعمت وارثان یُو، دَ پاره دَ دے چه ستاسو دُعاګانے ایسارے نهٔ شی... اَئے ښځو! هم دغه شان تاسو هم دَ خپلو خپلو خاوندانو تابعدارے اوسئ، ځکه چه که په هغو کښے څنے دَ خُدائے کلام نهٔ منی چه بیا هم ستاسو پاک چال چلن ته وګوری اَؤ خُدائے ته راواؤړی،... لکه چه مسیح دَ جماعت سر دے اَؤ

هغه په خپله دَ بدن بچ کوُونکے دے دغسے هر خاوند دَ ښځے سر دے... بهر حال په تاسو کښے دِ هم هر يو دَ خپلے ښځے سره دَ خپل ځان په شان مينه کوی، اَؤ ښځه دِ هم دَ دے خيال ساتی چه دَ خاوند عزت کوی.
(افسيان ۶: ۱-۴، ۵: ۲۵، اول پطروس ۳: ۷، ۱، افسيان ۵: ۲۳، ۳۳).

## مسيحی نوکر ته دَ خپل مالک سره او مسيحی مالک ته دَ خپل نوکر سره څنګه سلوک کول پکار دی؟

اَئے غُلامانو! په مزکه دَ خپلو مالِکانو په ويره اَؤ رپيدو سره تابعداری کوئ، داسے په صفا زړۀ لکه چه دَ مسيح کوئ. اَؤ دَ سړو دَ خوشحالوُونکو په شان تش دَ نُمائش خدمت مه کوئ بلکه دَ مسيح دَ غُلامانو په شان دَ زړۀ دَ اخلاصه دَ خُدائے رضا پُوره کوئ. اَؤ دا خدمت دَ انسان نه، بلکه داسے وګڼئ چه دَ مالک دے... ځکه چه تاسو خبر يئ چه دَ مالک له طرفه به دَ دے په بدل کښے تاسو ميراث مُومئ... غُلاَمانو ته نصيحت کوه چه دَ خپلو مالِکانو حُکم دِ منی اَؤ په هره خبره کښے دِ هغوئ خوشحاله ساتی اَؤ دَ هغوئ په حُکم کښے دِ هيڅ کله تکرار نۀ کوی، غلا دِ نۀ کوی بلکه

همیشه د دیانتداری په ښۀ شان ظاهروی دَ دے دَ پاره چه دَ هغوئ دَ مخه په هره خبره کښے زمُونږ دَ خلاصوُونکی خُدائے تعلیم عزت ومُومی... اَئے مالِکانو! تاسو هم دَ هغوئ سره دغه شان سلُوک کوئ. هغوئ ته زورنے مه ورکوئ. (افسیان ۶: ۶-۷ کولوسیانو ۳: ۲۴، تیطوس ۲: ۹-۱۰ افسیان ۶: ۹).

## دَ خُدائے په کلام کښے دَ بادشاهانو او دَ حاکمانو په بابت کښے څه لیکلی دی؟

نو بیا زَۀ دَ ټولو نه اول دا نصیحت کوم چه غوښتنه، دُعاګانے، شفاعت اَوُ شُکرُونه د دَ ټولو خلقو دَ پاره کولے شی. دَ بادشاهانو اَوُ دَ ټولو لویو مرتبو دَ خاوندانو دَ پاره چه مُونږ پُوره په دینداریٔ اَوُ سنجیدګیٔ سره په قلاره ژوند تیرول غوارُو... دَ مالِک دَ خاطره دَ بنی آدم دَ هر یو اِنتظام تابع اوسئ، دَ بادشاه په دے سبب چه هغه دَ ټولو نه لوئے دے، اَوُ دَ حاکمانو په دے سبب چه هغه دَ بدکارانو دَ سزا دَ اَوُ نیکانو دَ تعریف دَ پاره هغۀ رالیږلی دی. دَ ټولو عزت کوئ، دَ ایماندارانو سره مینه لرئ، دَ خُدائے نه ویریږئ اَوُ دَ بادشاه عزت کوئ... هر څوک د دَ اِختیار دَ خاوندانو تابعدار وی، ځکه چه داسے دَ اِختیار خاوند نِشته کُوم چه

دَ خُدائے دَ طرفه نۀ وی اَؤ کُوم اِختیار لرُونکی چه موجُود دی، هغه دَ خُدائے دَ طرفه دی. دَ ټولو حق پُوره کوه، چا ته چه ټیکس ورکول وی هغوئ ته ټیکس ورکوه، څوک چه دَ محصُول حقدار دی هغوئ ته محصُول ورکوه، دَ چا چه ادب کول په کار دی، دَ هغوئ اَدب کوه، دَ چا چه عزت کول په کار دی، دَ هغوئ عزت کوه.
(اول تیموتیوس ۲: ۱-۲، اول پطروس ۲: ۱۳-۱۴، ۱۷، رومیان ۱۳: ۱، ۷).

## دَ مسیح شاګردانو ته د راتلونکو زمانو د پاره څه امید لرل پکار دی؟

اَؤ دَ هغه مُبارک اُمید، یعنے دَ خپل لوئے خُدائے اَؤ خلاصوُونکی عیسیٰ مسیح دَ جلال دَ ظاهریدو په اِنتظار شُو... ځکه چه مالک به په خپله دَ آسمان نه دَ چغے، اَؤ دَ مُقربے فرښتے دَ آواز، اَؤ دَ خُدائے دَ بګل دَ آواز سره راکُوزیږی، اَؤ اول به هغه څوک چه په مسیح کښے مړۀ شوی دی راژوندی شی. اَؤ بیا به مُونږ څوک چه ژوندی پاتے یُو، دَ هغوئ سره په وریځو کښے پورته کړے شُو دَ دے دَ پاره چه په هوا کښے دَ مالِک اِستقبال وکړُو، اَؤ دغه شان به دَ مالِک سره تل تر تله اوسُو.

(تیطوس ۲: ۱۳، اول تسالونیکیان ۴: ۱۲-۱۷).

## دَ مسیح په شاګردانو بانده دَ ده لوی امید څه اثر کیدل پکار دی؟

خوږو دوستانو! مُونږ اوس هم دَ خدائے بچی یُو خو په ده نۀ پوهیږو چه څنګه به شُو، خو مونږ په ده پوهیږُو چه هر کله چه عیسیٰ راښکاره شی نو مُونږ به دَ هغۀ په شان شُو ځکه چه مُونږ به ئے هم په هغه شان ووینُو څنګه چه هغه دے (اول یوحنا ۳ : ۲ – ۳).

## اَئے لوستونکو دَ خُدائے نصیحت واورئ؟

اَئے آسمانونو واورئ اَئے زمکے غوږ ونیسه مالک وئیلی دی چه هغه ماشومان چه ما راوړی دی زما خلاف شول... په تیره زمانه کښے خُدائے زمُونږ دَ پلارانو نیکُونو سره ډیر ځله په مُختلفو طریقو سره دَ نبیانو په معرفت خبرے وکړلے. خو په ده آخره زمانه کښے ئے مُونږ سره دَ خپل زوی په معرفت کلام وکړو چه هغه ئے دَ ټولو څیزُونو وارث وګرزولو اَؤ دَ هغۀ په وسیله ئے هم ټول کائنات پیدا کړل... دَ ده دَ پاره کُومے خبرے چه مُونږ آؤریدلی دی په هغوئ

نور هم په زړهٔ فکر کول په کار دی، دَ دے دَ پاره چه دَ هغے نه په ښوئیدو لرے لاړ نهٔ شُو. ځکه چه کُوم کلام چه دَ فرښتو په معرفت وئیلے شوے وو کله چه هغه قائم پاتے شو اَؤ دَ هرے خطا اَؤ نافرمانئ ټیک ټیک سزا ورکړے شوه، نو بیا دَ دومره لوئے خلاصُون نه په غافل پاتے کیدو مُونږ ځنګه بچ کیدے شُو؟ کُوم خلاصُون چه وړُومبے دَ مالِک په وینا وشو اَؤ آؤریدُونکو مُونږ ته ثابت کړو... نو پس خبردار شئ چه له هغهٔ نه انکار ونهٔ کړئ چه تاسو ته کلام کوی. هغه خلقو ته چه دَ خُدائے کلام په مزکه آؤرولے شو، چه هغوئ رد کړو نو بچ نهٔ شول. نو هغه پیغام چه له آسمان نه آؤرولے کیږی که له هغهٔ نه مخ اړوُو نو ځنګه به بچ شُو؟... نو بیا لکه ځنګه چه رُوحُ القُدس فرمائی: ((که تاسو نن دَ هغهٔ آواز واؤرئ، نو خپل زړُونه مه سختوئ ځنکه چه دَ غُصے راوستو په وخت مو دَ آزمیښت په ورځ په بیابان کښے کړی وُو،... نو بیا خُدائے یوه خاص ورځ مُقرره کړه اَؤ له دومره مُودے نه پس ئے دَ داؤد په کتاب کښے ورته "دَ نن ورځ" ووئیل، لکه چه وړُومبے وئیلے شوی دی چه ((که تاسو نن دَ هغهٔ آواز واؤرئ نو خپل زړُونه سختوئ مه.))
(یشعیاه ۱ : ۲ ، عبرانیان ۱ : ۱-۲ ، ۲ : ۱-۳ ، ۱۲ : **۲۵** ، ۳ : ۷-۸ ، ۱۵ ، ۴ : ۷).